مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خوشحال آصفي ۲۰۱۸/۰۴/۱۱

که پاکستان کونړ ته چپ ګوري، سترګې پرې راوباسئ

پر کونړ د پاکستاني ملیشو راکټي بریدونه کومه نوي خبره نه ده، ورته پیښي کلونه کیږي چې نه یواځې په کونړ بلکې په ننګرهار، نورستان، خوست او کندهار کې هم ترسره شوي دي آن ځینې وختونه پاکستانی الوتکې د افغانستان خاوري ته ننوتې او په عامو خلکو یې بمبار هم کړی دی. اوس په تازه کې چې د کابل ـ اسلام اباد اړیکې ترینګلې شوي دي، یو ځل بیا دغو بریدونو زور اخیستی دی چې د تیرې یوې نیمې اونۍ راهیسې پر افغان خاوره د پاکستان په زرګونو توغندي ورول شوي او له امله یې یو تن شهید شوی، په لسګونو تپیان شوي او په زرګونو نور د خپلو مینو پرېښودو ته اړ شوي دي. دغه راز دې بریدونو خلکو ته درانه مالي زیانونه اړولي، د خلکو ځاروي یې مړه کړي او کښتونه او ځنګلونه یې هم زیانمن کړي دي.
د دغو بریدونو په خلاف په تېر کې ولس خپله غصه ښودلې او د پاکستان د یاد اقدام او د حکومت نامناسب غبرګون په مقابل کې یې لاریونونه هم کړي دي خو له بده مرغه چې نه پاکستان اصلاح شوی دی او نه هم حکومت د پاکستان د یاد تیرې په مقابل کې وړ او مناسب غبرګون ښودلی دی. حکومت یواځې په رسنیو کې ویلي چې پاکستان سره د ورته عمل امر یې افغان امنیتي ځواکونو ته کړی دی خو د کونړ اوسیدونکي بیا د حکومت اقدام د پاکستان په مقابل کې نامناسب او ضعیف بولي.
اوس پوښتنه دا ده چې پاکستان د دغو بریدونو ترسره کولو تر شاه کوم اهداف لري او پاکستان که د سپې لکۍ ده او نه سمیږي نو په مقابل کې یې د افغان حکومت مسولیت څه دی؟

پاکستان پر کونړ د بریدونو تر شاه څو اهداف لري:

لومړی: کونړ ولایت له پاکستان سره نیږدې پوله لري او ځکه پاکستان په دغې ولایت توغندیز بریدونه کوي څو خلک له سیمې ووځي او پاکستاني طالبانو او ترهګرو ته سیمې خالي شي. پاکستان غواړي چې پر کونړ ولایت د راکټي بریدونو له لارې خلک خپل کورونه پریږدي، له سیمې ووځي څو پاتې شوي کورونه یې وسله والو طالبانو او د پاکستان د آی ایس آی ترهګرو ته پاتې شي. که دا سیمې وسله وال ونیسي او په کې ځای پر ځای شي نو بیا پاکستان په آسانۍ کولی شي چې په دغه ولایت کې د داعش پروژه په آسانۍ عملي کړي، دلته یې لوی مرکز جوړ کړي چې ننګرهار، نورستان او نور نیږدې ولایتونو کې به هم داعش جنګیالي له دغې ولایته کنټرول کړي.
همداراز که د پاکستان د بریدونو په نتیجه کې خلک خپل کورونه پریږدي او وسله وال په کې ځای پر ځای شي نو پاکستان به په اسانۍ وشي کولی څو دغلته پر ډیورنډ کرښه اغزن تار تېر او په شاوخوا کې یې خندقونه وکني او همداشان نوي پوستې جوړې کړي. نو په همدې اساس پاکستان غواړي پر کونړ توغندیز بریدونه لا هم زیات کړي.
دویم: دا چې معمولاً د ژمي پر مهال جګړه سړیږي او د نوي کال په پسرلي کې بیا د وسله والو بریدونه زور اخلي. حکومت هم د وسله والو د پسرلنیو جګړو د مخنیوي او د دښمن د تضعیف په خاطر د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې چانیز عملیات ترسره کوي. اوس مهال چې حکومت د هیواد په شمالي او نورو ولایتونو کې د دښمن پر ضد چانیز عملیات پیل کړي نو پاکستان هم هڅه کوي چې په کونړ د راکټي بریدونو په ترسره کولو سره افغان حکومت د هیواد په شمال او جنوب کې د طالبانو د پسرلني عملیاتو د مخنیوي څخه غافله کړي. اوس پاکستان هڅه کوي چې د افغان حکومت پام کونړ ته واړوي او بوخت یې وساتي، بل لور ته به دوی وکولی شي چې د پسرلني جګړې لپاره په شمال کې د طالبانو تجهیز او تمویل وکړي او راتلونکی کال خونړي بریدونه ترسره کړي.
دریم: پاکستان پر کونړ ولایت او یا په اصطلاح له ډیورنډ پر دې غاړې ولس ځکه توغندیز بریدونه کوي څو له ډیورنډ پورغاړې ولس سره یې اړیکې خرابې کړي. پاکستان له په دې غاړې ولس بریدونو په ترسره کولو سره غواړي چې دې غاړې ولس ته وښیي چې پورې غاړې پښتانه یې خواخوږي نه بلکې تري جدا او د پاکستان د امر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مننونکي دي. په داسي حال کي په پاکستان کي د پښتون ژغورنې غورځنګ پاکستان وارخطا کړی دی نو اوس په دي طريقه غواړي چې د دواړو غاړو ولسونو تر منځ د نفاق اچولو هڅه وکړي او يو د بل له ملاتړه لاس واخلي.

څه بايد وشي؟

د پاکستان د بريدونو په مقابل کي تل افغان حکومت سوړ غبرګون ښودلی دی او تل يې په ډيپلوماټيکو خبرو تاکيد کړی دی خو پاکستان لکه د سپې لکۍ نه سيده کيږي، نه ډيپلوماټيکو خبرو ته ژمن دی او نه منطق مني. نو اوس خلک له حکومته غوښتنه کوي چې د پاکستان په مقابل کي بايد له جديته کار واخلي، بلمثل ځواب ورکړي، خپلو امنيتي ځواکونو ته امر وکړي چې د پاکستان د يو غوندي په مقابل کي ځلور توغندي ګوزار کړي. خلک له حکومته پوښتنې چې ولې زمونږ امنيتي ځواکونه له پاکستاني مليشو کم دي؟ آيا زمونږ امنيتي ځواکونه راکټي بريدونه نه شي کولی، آيا زمونږ امنيتي ځواکونه راکټي برید په چل نه پوهيږي او که د وطندوستۍ احساس نه لري چې پاکستان مو په خاوره ښکاره تيری کوي او زمونږ افغان امنيتي ځواکونه د مشرانو امر ته په تمه ناست دي؟
نور نو د ولس حوصله ختمه شوې ده او ولس غواړي که پاکستان مو خاوری ته په جګو سترګو وګوري نو بايد سترګي پرې راوويستل شي. که حکومت يې زور نه لري يا کوم بل مجبوريت لري نو کولی شي په ولس غږ وکړي، ولس به پاکستان ته داسي غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي چې بيا به يې د پنجابي لسم پشت نسل هم په ياد ساتي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ